# چا چې تعويذ وځړاوه نو يقينا چې شرک يې وکړ

له عقبة بن عامر الجهني رضي الله عنه څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوه ډله راغله، نو هغه له نهو سره بيعت وکړ او يو ته يې د بيعت لاس ورنکړ، هغوى وويل: اى د الله رسوله، له نهو سره دې بيعت وکړ او دا دې پرېښود؟ هغه وفرمايل: «إِنَّ عَلَيْهِ تَمِيمَةً» «هغه تعويذ ځړولى دى» هغه لاس دننه کړ او تعويذ يې پرې کړ، نو بيعت يې ورسره وکړ او ويې فرمايل «مَنْ عَلَّقَ تَمِيمَةً فَقَدْ أَشْرَكَ». «چا چې تعويذ وځړاوه نو يقينا چې شرک يې وکړ».

[حسن] [احمد روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوه لس کسيزه ډله راغله، نو هغه له نهو سره په مسلمانېدو او پيروي کولو بيعت وکړ، خو له لسم سره يې بيعت ونه کړ، نو کله چې ورڅخه د دې کار د لامل په اړه پوښتنه وشوه، هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: پر هغه تعويذ دى - يعنې غاړه کې يې اچولى دى - او تعويذ هر هغه څه ته وييل کيږى چې له مريو او نورو څېزو څخه د نظر لګېدلو او د ضرر د مخنيوي په موخه اچول کيږي. سړي خپل لاس د تعويذ ځاى ته ورتېر کړ، پرې يې کړ او له ځانه يې لرې کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورسره بيعت وکړ او د تعويذ کارونې په اړه يې اخطار ورکړ او حکم يې ورته بيان کړ. "مَن علَّقَ تَميمة فقد أشرك". «چا چې تعويذ ځوړند کړ نو شرک يې وکړ».

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6762